# د آله ډهنډ ډهيرۍ رسمونه رواجونه
# تنقيدي جاج

Tufail Ahmad Zaryab yousafzai[1]


## Abstract

*Culture is the most brilliant aspect of a nation. Every nation has its own identity and they live with their own way. Culture transfers through the practice of its people who practice it.Aladand Dehri is one of the most historical village of Malakand Agency KP. It has its own political social and cultural background. The people who live here practice the ways and values which are remained from the elders. This paper will discuss the cultural values and customs.*


"کلتور چې په انګرېزۍ کښې ورته کلچر وئيلے شي. د لاطينۍ ژبې Culture نه اخذ شوے دے. او دغه لفظ د يو بل لفظ Colere نه ماخوذ دے. چې معنیٰ ئې ده کرل، زمکه هموارول او يا د پېدا وار د ښهٔ کولو په غرض د تخم کرل او بيا ئې خصمانه کول."[i]

کلتور د پاره د ثقافت لفظ هم مستعمل دے. چې د عربۍ د ټکي ثقفه نه ماخوذ دے. چې لغوي معنیٰ ئې ده. عقلمندي، دانائي، پوهه او زيرکي.

په عربۍ کښې هوښيار او زيرک کس ته الثقيف وائي.

ثقف په عربۍ کښې ځېر ته هم وائي.[ii]

په دغه تناظر کښې د ثقافت مطلب په ښه روزنې او خاص خصمانې د انسان روحاني، ذهني او قلبي خصمانه او روزنه کول. يعنې د يو قام د ماضي او حال د معاشرتي ژوند ژواک هغه پنګه چې هغه ورسره د ژوند په لاره په ځانګړي حېثيت سفر کوي.

په نورو ژبو يعنې عربۍ، فارسۍ او اردو کښې د ثقافت د پاره د تهذيب لفظ هم استعمالېږي.

"د تهذيب اصل هذب دے. چې معنیٰ ئې ده بې عېبه. د هذب کليمه په اصل کښې د هغې ونې د پاره استعمالېږي چې څنې ښانګې او څنې ښاخونه به ئې قطع شو. او صافه به شوه. وروستو دا کلمه له محسوساتو نه معنوياتو ته رانقل شوه او هغه چا ته وئيلے شوه. چې عېبونه به ئې ورک شو. يعنې مهذب په شو. اهل لغت ټول په دې متفق دي چې د مهذب کلمه د يو کامل انسان د پاره د ونې له تهذيبه را نقل شوې ده. څکه چې معنوي او عقلي امور له حسې اشياؤ څخه ماخوذ دي. [iii]

[1] Lecturer in Pashto, ICP

دغه ثقافتي او تهذيبي پنګه د يو قام هغه ځانګړي خصوصيات لري چې دهغوي انفراديت سره سره د هغوي د شناخت هنداره وي. د يو قام د اقدارو، عقائدو، رواياتو او رسمونو رواجونو هغه مجموعه ده چې د هغوي پرې ژوند تېروي.

"Culture is defined as the values, believes, behavior and material objects that constitute a peoples way of life."[iv]

اود رالیف لنډن مطابق

A culture is the configuration of learned behavior and results of behavior whose component elements are shared and transmitted by the members of a particular society.

ژباړه: ثقافت د معاشرتي ورثې نوم دے چې د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کيږي. په معاشرتي حصه کښې مونږ ډېر څيزونه شاملولے شو لکه اقدار او روايات، رسمونه رواجونه، عقيدې او نور مادي څيزونه کوم چې انسان په خپله جوړ کړي دي. "[v]

په هره ټولنه کښې څۀ نا څۀ قوانين وي هغه يا خو معاشرتي يا سماج وي يا مذهبي يا رياستي. د هر قانون نه بغاوت کول د يو کس د پاره د سزا باعث وي. لکه د معاشرتي يا سماجي قانون نه مخ اړول انسان د سماجي قانون د لاندې سزاوار کوي. ځکه د ټولنې سماجي قانون د دغې ټولنې د جتماعي شعور نه راوځي. چې په شا ئې د ټولنې دودونه دستورونه او رسمونه رواجونه وجود لري. او د دغې قانون نه مخ اړول د سماج او ټولنې د اړخ نه يو کس ته سزا ورکول وي. د مذهبي قانون سزاګانې داسې وي چې د مرګ نه پس ورکولے شي. البته اسلام ځنې داسې قوانين هم لري چې د هغې نفاذ رياست کولے شي. او د قانون درېم قسم د رياستي قانون دے. چې وګړے پرې د ژوند په بېلا بېلو مېدانونو کښې عمل کوي. لکه د ټرېفک قانون، قتل او ډاکه وغېره. که وګړے د دغه قانون نه بغاوت وکړي نو رياست ورله د خپلو ادارو په ذريعه د دغه قانون د سپورې لاندې سزا ورکوي.

رسمونه رواجونه د قانون نه بدل وي ولې خلق پرې د قانون په شان عمل کوي. او دغه پابندي په ځان فرض ګڼي. ځکه چې د پښتو متل دے د قام سره ډوب ښۀ ئي. مطلب دا چې که په يوه معاشره کښې وسېدل غواړې نو هغه قانون به منې کوم چې د رسمونو رواجونو په شکل کښې وي. او د يوې معاشرې د ماضي سره د تړون مظهر وي.

"د رسمونو رواجونو اهميت په دې وجه دے چې په اجتماعي توګه په دې عمل کولے شي. په معاشرتي ژوند کښې اجتماعي اثرات دومره طاقتور او ژور وي چې د هغې پرېښودل اسان نۀ وي."[vi]

رسم و رواج د ژوندو خلقو د ژوند علامت دے. او دغه د ژوند پيغام دے. او هم دغه د يو قام د ځانګړي کېدو روايت دے. اګرچې بعضې رسمونه رواجونه داسې هم وي. چې هغه په بعضې وخت کښې بوج کيږي هم خو ولې بيا هم د يوې معاشرې وګړے دغه رسمونه رواجونه پالي هم او منې هم. ملاکنډ او بيا په خصوصي توګه اله ډهنډ ډهېرئ د پښتونخوا هغه کلے دے.چې خپل تاريخي، ثقافتي، سماجي، سياسي او مذهبي حېثيت لري.د يوسفزيو د سياست ټاټوبے او د نن دور يو ځانګړے کلے اله ډهنډ ډهېرئ کښې ژوندي خلق وسيږي او هم دغه وجه ده چې هغوي هم خپل يو ځانګړے حېثيت لري. خپل رسمونه رواجونه لري. دلته د هغوي د څو رسمونو رواجونو مختصر جاج اخلو.

### د ماشوم د پيدائش سره تړلي رسمونه رواجونه

د ماشوم د پېدائش په حواله دلته خو اول د ماشوم د امید خبره پټه ساتلے کېدے شي. او چې کله ماشوم پېدا شي نو یو بل له مبارکی ورکولے کیږي او خپل خپلوانو ته د دغه خوشحالۍ زیرے ورکولو سره د پیسو غوښتنه هم کولے کیږي. او چا چې اول زیرے کړے وي. هغۀ له خو بیا ډېر څۀ په تحفه کښې ورکولے کیږي. لکه نغدي پیسې او جامې وغیره. او هم دغه وخت مُلا صاحب راوغښتلے شي. د ماشوم په غوږونو کښې بانګ ووایي. د مُلا صیب هم خاطر مدار په ښۀ توګه کولے شي. په اوومه ورځ د ماشوم سر خرئیلے کیږي. او چې کوم نایي د ماشوم سر وخریي نو هغۀ ته د وېښتو په تول پیسې ورکولې کیږي. او د متهائۍ ډبې ورته هم تحفتاً ورکولې کیږي. د ماشوم نوم اکثر تره، ترور، یا نیا نیکۀ ږدي. خو ډېرپکښې اوس هم هغه ماشومان دي چې کشران ترونه ورته نوم ږدي. د نوم کېښودو د مرحلې نه پس ګونګرې پخولے کیږي. چې د هر قسم دال نه علاوه پکښې د جوارو او غنمو دانې وي. او په ټول چم محلت کښې وېشلے کیږي. کله چې د ماشوم عقیقه وي نو په هغې ورځ د ماشوم نیا کور یعنې د جینۍ د پلار کور ماشوم له وومه راوړي. او د خاندان ټول خلق په شریکه په ټاکلې ورځ راټولیږي. او خوشحالۍ نمانځي. او دغه شان د ماشوم د ښۀ صحت، ژوند او ښۀ قسمت د پاره دعاګانې غوښتلے کیږي او چې کله اوومه وکړې شي نو اکثر مور او ماشوم د نیا کره راویستلے شي. او تر څلوېښتو ورځو پورې هلته وي. او چې کله بیا ماشوم قدم واخلي. هغه ورځ هم د خوشحالۍ وي. او شیرینۍ وېشلے کیږي. چې د هغۀ اولنے قدم بختور شي. vii

مور پلار یا د کور نور مشران چې ماشوم په داسې قدم اخستو ویني نو یا خو ورته وائي چې :

برہ برہ راشه
برہ برہ راشه
ما سره پخلا شه viii

او یا دا چې :

پاپلې پل واخله
پل دې بختور شه پسې بل واخله ix

دغسې ورته مور د پیو ورکولو په وخت او یا د خوراک د رغبت په حواله وایي چې :

چاچۍ وولے نۀ شي
ککورے به در نۀ کړمه
یا دا چې
تور دے بچے تور دے
لرې لرې ګرځي بچے بیا د خپلې مور دے. x

او چې اودۀ کوي ئې نو مور ورته په خپل نرم او مشفق اواز وائي:

الله هو شه الله هو
للي للو للي للو للي للو
زما ګرانه اللهو پسې مۀ راځۀ د برې باندې سپو xi

او چې بیا مور دغه خپل نیازبین ماشوم راپاسوي نو ورته وایي

پاسه که پاسې

بیا به زوړ بوډا شي
په امسا به نهٔ پاسي[xii]

او چي کله ورسره هسي مشغولیږي نو بیا ورته وایي:

شولي واړه شولي
د شګې شولي سمسورې
ستا وروړ به شولي راوړي
د رومال په پلو پورې[xiii]

او چي کله ئې په ځانګو کښي ځانګوي نو ورته وایي:

| | |
|---|---|
| ټاټې په ځانګوټې | دلته مهٔ راځئ غلو |
| په کوزه لارې مهٔ ځئ | په بره لاره رو |
| ټاټې په ځانګوټې | دلته مهٔ راځئ غلو |
| دننه دواړه سپي دي | هغه تړلي په ناړو |

ټاټې په ځانګوټې
دلته مهٔ راځئ غلو

| | |
|---|---|
| په ګرونج باندې منګي دي | هغه پټ په کټورو |
| ټاټې په ځانګوټې | دلته مهٔ راځئ غلو |
| دننه صندقچي دي | هغه ډک د اشرفو |

ټاټې په ځانګوټې
دلته مهٔ راځئ غلو[xiv]

او بیا چي کله خبرې وسپړي نو هم ټول کور او خاندان کښي د خوشحالۍ موجونه غزوني وکړي. دغه شان چي کله ورته مور اواز کوي. یا ورسره لوبې کوي نو ورته وائي:

| | |
|---|---|
| بي بي وائي چاړا دے | داجي وائي ککے دے |
| ککے مې ګل طوطي دے | د طوطي په ژبه خپله |

مور جانه پوهیدله[xv]

د ماشوم د پېدایش نه واخله تر سکول پورې هره مرحله د خوشحالۍ او راحت وي. او د خاندان ټول خلق ورسره من من غټیږي.

## د ماشوم سنت

کله چي ماشوم وړوکے وي نو په ډېر کم عمر کښي بلکي د څو ورځو په عمر کښي ئې سنت کړي. او په هغه ورځ هم ډېرې خوشحالیاني کیږي. خوارهٔ وېشلے کیږي. او ټول خاندان د ماشوم د ژوند د روښانه سباؤن د پاره دعاګاني کوي. د سنت په ورځ به مخکښي نایي راوغوښتلے شو او په قلم به ئې ورله سنت کولو. اوس خو د ډاکټر په کلینک کښي ماشوم سنت کړے شي او کور ته ئې په سپینه کپړه کښي نغښتے راوړي. چي نیا، ترورېاني او چاچي ګاني وغیره ورله د مختلفو وچو مېوو امېلونه تیاروي او په غاړه کوي ئې ورته او د سر نه ورله پېسې تاووهي او صدقه کوي.[xvi]

کوئیدن
کله چې هلک زلمے شي او د وادهٔ کوېدن جوګه شي نو د کور په مشوره د هلک مور د مختلفو جینکو تپوس شروع کړي. او چې په دغه غرض د چا کره ځي نو د ځان سره د خاندان يو څو نورې مشراني زنانه هم ملګرې کوي. او د جینۍ کور ته ورځي. د غې کور سره خپل زاړهٔ وختونه او تعلقات بیا راتازه کوي. او بیا چې کله چائے اوبهٔ وکړي نو د خپل راتګ مقصد بیان کړي. د جینۍ کور واله ورته وواېي چې مونږ به پرې خپلو نارینوو سره مشوره وکړو. او بیا به تاسو خبر کړو. په دې اعوان د جینۍ مورد جینۍ دپلار او ورونو سره خبره وکړي. او چې کله هغوي مشوره وکړي نو اول د هلک معلومات شروع کړي. د هلک د ماشومتوب نه واخله تر دې وخته معلومات د هغهٔ د ملګرو په ذریعه راجمع شي. نو په هغه بنیاد بیا مخکښې فېصله کولې کیږي. xvii
د هلک د خاندان خو هسې هم پته وي خو د ټولو اهم څیز چې په هلک کښې کتلے کیږي هغه د هغهٔ روزګار وي. او چې د کوم کس روزګار ښهٔ وي او خاندان ئې هم لږه ګوزاره کوي نو د اکثرو پکښې ووټ د هلک په حق کښې وي. خو چې د جینۍ نیکهٔ ژوندے وي. هغه د هلک خانداني پس منظر ګوري. او د وینې په بنیاد فېصله کوي. اوچې کله رشته منظوره شي نو د جینۍ کور نه څوک هلک کور ته استاذے واستوي او ورته وائي چې هغه جوړه مونږ ورکوو کهٔ راځئ پسې. او هم دغسې د هلک کور په خاندان د خوشحالۍ اختر د بره شي. xviii
او بیا د هلک کور مشران او د خاندان څو زنانه په منتخبه ورځ د ماسخوتن مونځ نه وروسته د دعائے خېر په غرض د جینۍ کور ته ورشي. په دغه اوان هغوي د رشتې هغه ضروري خبره صفا کړي. د جینۍ مهر وغېره په هلک وتړي او د جینۍ او د هلک د خوا مقرر شوے وکیل د مُلا تر وړاندې د قبول او ایجاب د مرحلې نه تېر شي. او دغسې د پیو ګوټ ورکړے شي. او چې کله پې وڅخلے شي نو د هلک د کور د طرفه مقرر کړے شوي کس ته د هلک د خاندان راغلي کسان پېسې ورکړي. او بیا د جینۍ د کور نه مقرر کړے شوي کس ته هغه پېسې ورکولے کیږي. او دغسې اوله مرحله پایې ورسي.
د دې نه پس په مقرر وخت او ورځ د هلک د کور زنانه او نارینه د ټلو نه مخکښې مختلفې مېوې او د خوراک څیزونه جینۍ کره ولیږي. او بیا ورپسې لاړ شي. او هلته خپلې خوشحالۍ وکړي. د دې نه پس د هلک کور د طرف نه د جینۍ کور نزدې رشته دارو کره خونچے لیږي. خونچے هغه څیزونه وي چې په اول ځل د نوې رشتې د تړون په نیت لیږلے کیږي. او اکثر پکښې شنه مېوه او متهایۍ نه علاوه د پیو شربت هم لیږلے کیږي. دغسې بیا په بله مقرره ورځ د جینۍ کور د طرف نه زنانه راځي او ډوډۍ وخوري او لاړ شي. او په درېمه مرحله کښې خپې ارتون وي. چې هلک سره د ملګرو او د خاندان د نورو وګړو د سخر کره ځي. سخر کور د هلک د پاره ښهٔ بندوبست کړے وي. د خوراک بندوبست سره سره ئې هلک له او د هغهٔ سره راغلي نورو ملګرو له تحفې هم ورکوي. لکه آئین، منږز وغېره. په دې موقع د جینۍ ناواده کړې خور او چې واده وي هم چې هلک کله خوابښې له راځي نو هغه ورباندې د پرفیوم سپرے کوي او د لږ ډېر تنګولو نه پس ترې ځانله پېسې واخلي او دغسې هلک معاف کړي. د تلو نه مخکښې هلک هم مور او تروریانو پوهه کړې وي چې هلکه خیال کوه چې شومتوب ونهٔ کړے. بیا چې هلک د ملګرو خوا له راشي او ډوډۍ ته کښېني نو ملګرې ئې تنګوي. کله ورله جامې سخا کوي. کله ورسره نور ګپ شپ لګوي. هلک خو له شرمه څهٔ وئیلے نهٔ شي او هلکان د هغهٔ د دغه بې وسۍ نه خوندونه اخلي او خاندي خوشحالیږي. د پُر

تکلفه ډوډۍ نه پس د پېسو مرحله راشي او د راغلو ټولو ملګرو مېلمنو نه پېسې واخلي او جینۍ کور ته ئې حواله کړي. په دې موقع اکثر هغه کسان بوتللے شي چې پېسې ورکولے شي او هم هغوي ته ډېر خوشحاله وي. بهر حال د خپل یار د ژوند د دغه خوشحالۍ د ورځ ډېر ښائسته یادونه د ځان سره راوړي چې واپس راځي. دغه ملګري بیا په هر ځائے کښې د دغه موقعې ذکر کوي. او تر ډېره وخته ئې یاد ساتي. xix

بیا چې کله د اختر شوقدر موقع وي نو هلک کور جینۍ له تغارے لېږي. په تغارے کښې وریژې، غوړي، چرګان، جامې، پېزار، نکریزې، بنګړي، شنه مېوه، وچه مېوه او نور لټر پټر وي. چې په ډېره مینه ئې هلک کور جینۍ کور کره لېږي. تغارے چې څوک یوسي نو د جینۍ مور هغه کس له ډېرې پېسې ورکوي او په عزت ئې رارخصتوي.

د کوېدن په موقع ویونکې ټپې څۀ داسې وي.

پاس په غونډۍ لاټېن بلېږي
راته ښکارېږي چې هلک سخر کره ځینه
دا شا ځلمے د موره یو دے
د کبل ځېله شه چې ونیسي ملکونه
د ډمامې اواز دې راغے
په زړۀ سورې شې یاره ودې کړه کوېدنه
دا شا ځلمے د سرو زنځیر دے
بخت د جینۍ دے چې زنځیر به زړوینه
جینکو وشینډئ ګلونه
د شا ځلمي د کوېدن ورځ ده رابه شینه
سپینو جامو کښې سنبال راغلے
ښائسته ځلمیه مبارک دې شه کوېدنه
کوېدن په نوم د دې ځلمي ده
برغي شملي د مشر خان مزه کوینه
د ململي لوپټې لاندې
د چنغلي ښو ګلاب نیولي دینه
جینکو وایئ لوبې وایئ
زمونږ داجي به درله ګډ حلالوینه xx

دغسې د کوېدن خوشحالۍ ټول خاندان ډېر په شوق او اتفاق سره نمانځي.

وادۀ

وادۀ د ژوند د بقا علامت دے. چې کله زمونږ په کلي کښې د وادۀ نېټه کېښودے کېږي نو اول د هلک کور نارینه مشران یو څوکسان د جینۍ کور ته سوال جواب وکړي. چې مونږ د نېټې پسې

راځو. او چې کله هغوي ورته د راتلو اجازت وکړي نو هغه د مشرانو ډله په مقرره ورځ لاړ شي او د جينۍ د کور د مشرانو سره د وادهٔ د نېټې په حواله خبرې اترې وکړي. او چې دجينۍ کور والا کله مطمئن شي نو د وادهٔ نېټه کېښودے شي او بيا د هلک او جينۍ کور دواړه د وادهٔ په تيارو کښې بوخت شي. په دې دوران کښې هر ماسخوتن د هلک کور ته د خاندان نور خلق اورا راوړي. سندرې وائي تمبل وهي. سندرې غږوي او د خوشحالۍ اظهار کوي.[xxi]

او اخر هغه شپه هم راشي چې د شمعو شپه ورته وائي. د خاندان جينکۍ ټولې راټولې شي او د ماسخوتن د جينۍ کور ته لاړ شي شمعې ئې بلې کړې وي په وړو وړو خاورينو لوخو کښې سنګارې کړے وي. او هلته ئې وګډوي او خوشحالۍ وکړي. ناوې هم د خپلو ملګرو سره د کوټې د سر نه يا د يو ګوټ نه د دې هر څهٔ نهٔ خوندونه اخلي.

او تر نيمې شپې دغه مرحله روانه وي. او د جينۍ کور راغلی مېلمنو له په چايو او خوړو مېلمستيا کوي.

په سبا په مقرر کړے شوي وخت جنج لاړ شي او د ډولۍ راوړو تابيا وکړي. زنانه ګنټه نيمه مخکښې لاړې شي او د ناوې جوړه يوسي او ناوې تياره کړے شي او بهر په يوه صوفه کښې کښېنولے شي او د هلک د کور نه راغلي جينکۍ ورته د خپلې مينې او خوشحالۍ پيرزوئنې په مختلفو طريقو وړاندې کوي. تصويرونه ويستلے کيږي. او ناوې پټه پټه ژاړي.[xxii]

او بيا د ډولۍ وخت شي ناوې په ډولۍ کښې کښېنولے شي. او تر موټره ئې راوړې شي. څادرونه ورته خوارهٔ کړي او په موټر او ډولۍ پتاسې او موم پلي شيندلے کيږي. او دغسې ډولۍ د ډېرو ګاډو په قافله کښې د هلک کور ته راوړلے شي. اکثر هلک جنج سره نهٔ بوتللے کيږي. مخکښې به د ډولۍ نه مخکښې د وادهٔ هلک را روان وو. او نکاح به ئې هم په هغه وخت د جينۍکور کره تړله. او د ډولۍ وختونه به د ورځې په رڼا کښې مقرر کېدل. اوس اکثر د ماسخوتن يا ماښام ډولۍ راوړے شي. بل خوا هلک کور په وليمه کښې وريژې ورکوي. او ټول خلک او په خصوصي توګه د محلې خلقو ته دعوت ورکوي. دغسې د هلک کور نه د جينۍ کور مشر د خپلې محلې د نايي او جمات د پاره څهٔ پيسې هم اخلي. ډولۍ چې راوړې نو د ماسخوتن د مونځ نه پس بيا نکاح تړلے کيږي. د جينۍ د نکاح ورور چې اکثر د هلک خپل ورور وي يا د تره او ماما زوئے هغه د نکاح وکيل وي او هلک په خپله قبول او ايجاب کوي او دغسې جينۍ د خپل کور نه د هلک کور ته راشي. په دغه وخت ورسره يوه زنانه هم په هغه قرآن مجيد کښې کوم چې جينۍ د ځان سره راوړې وي سبق وائي. په بله ورځ کله چې وليمه وي نو په هغه ورځ اوومه هم وي. او د جينۍ د کور زنانه راځي او جينۍ له د کړي سامانونو، جامو او جوړو وغېره نمائش کوي. دغسې ماښام ناوې په ژړا پاتې شي او د کور خلق ترې لاړ شي. اکثر ورسره مشره ترور او ملګرې دوه درې ورځې تېروي هم. او د ناويتوب په درېمه ورځ ناوې ته ساګ کېښودے شي يا نوره سبزي چې پرې ئې کړي. او دغسې يوه پېغله د پېغلتوب د کوره د مېرمنتوب کور ته راشي. او نوے ژوند شروع کړي.

غم

دغسې د غم رواج هم ځانګړے دے چې په کوم کور کښې مړے وشي نو زنانه راځي او د هغوي سره غم رازي کوي. او بيا تر درېو ورځو دغه سلسله روانه وي. په درېمه ورځ د کلي زنانه او لرې خپلوان لاړ شي او باقي لا څو ورځې وي. دغه شان چې کله په جمات کښې اعلان وشي نو د محلې

نارينه د قبر د پاره مقبرې ته وځي. څوک د راغلي مېلمنو خدمت ته ودرېږي او څوک د کور د مشرانو سره په جمات کښې لاس نيوې ته کښېني.

خلق راځي دعا کوي او ځي اوچې د ډوډۍ وخت شي نو د محلې کسانو دېګ پوخ کړے وي. او خپلوانو کښې هم چا د ډوډۍ بندوبست کړے وي. او دغسې مېلمانهٔ عذر کوي.xxiii

تر درېو ورځو مختلف خلق که د محلې وي او که د خاندان په مختلفو وختونو ډوډۍ ګاڼي کوي. دغسې تر څلوېښتمې د مړي کور والا په هر زيارت ماښام خېرات کوي او په څلوېښتمه بيا لوئے خېرات وي چې د خاندان او محلې ټول خلق پکښې شريک وي. اکثر پکښې د يو کشر د وادهٔ قيصه سر ته ورسي. د دې نه پس تلين وي چې پوره يو کال پس د مړي پسې کيږي چې لوئے خېرات وي او ټوله ورځ جاري وي. مخکښې به ئې په درېمه ورځ صابن هم وېشلو او اسقاط به ئې هم ورکولو خو اوس دغه رسم ختم دے.

زمونږ د کلي اله دهنډ ډيرۍ دغه رسمونه رواجونه زمونږ د کلي د ځانګړي حېثيت شناخت دے. او هم دغه ئې ځانګړينې ښکلا او رنګيني ده. زمونږ کلے يو تاريخي او ثقافتي حېثيت لرونکے کلے دے او خپله ځانګړتيا ئې تر صدو قايمه ساتلې ده. الله دې وکړي چې هم دغسې قائمه وي ځکه چې د نوي تهذيبي يلغار سره مخ پښتانهٔ د خپل ځانګړي حېثيت سره د دنيا سره مخ په وړاندې تګ ته اړتيا لري.

# حوالي

---

[i] Haper, Dougles, Online, Etymology Dictionary 2001.

[ii] خلیل، حنیف، پاکستانی زبانوں کا تہذیبی مطالعہ، نیشنل انسٹیٹیوٹ آف پاکستان سٹڈیز، قائداعظم یونیورسٹی اسلام آباد، غزنوی پبلشرز، سویس پلازہ نزد زہری مسجد جناح روڈ کویٹہ، ٤ ـ ٥ مخونہ۔

[iii] مؤلف نۀ لري، د پښتو ژبې او ادب تاريخ، تاج کتب خانه قصه خواني پېښور، ٦ مخ

[iv] Sociology lesson, language culture norms and values, sociology II, ptt slide 11

[v] www.allfreepapers.com/social-issues/the-cultural-process/29534.html

[vi] شاہد حسین، رزاقی پروفیسر، پاکستاننی مسلمانوں کے رسوم و رواج، سنگ میل پبلشرز لاہور، ۱۹۹٦، ۲۱ مخ ۔

[vii] کرم محمد يوسفزي سره مرکه، محله خان پلو، اله ډهنډ دهيرى ، ١٩ ــ ٠٩ ــ ٢٠١٦.

[viii] مهرو جان ابی سره مرکه، محله عزي خېل.

[ix] همدغه

[x] همدغه

[xi] همدغه

[xii] همدغه

[xiii] همدغه

[xiv] همدغه

[xv] همدغه

[xvi] کرم محمد يوسفزي سره مرکه، محله خان پلو، اله ډهنډ دهيرى ، ١٩ ــ ٠٩ ــ ٢٠١٦.

[xvii] همدغه

[xviii] همدغه

[xix] نازنين ابی سره مرکه

[xx] همدغه

[xxi] همدغه

[xxii] هم دغه

[xxiii] کرم محمد يوسفزي سره مرکه،